# د بدری خوری

بیا دی څه نیت دي چی له ورایه راته ګوري
نه چي بیا مي وژني په غمزو د بدري خوري
**

کاشکی د جفا پر ځای تل دی وفا کړای وای
یا دی ځما زړه پخپل مینه رضا کړای واي
بی له تا مي نشته دبل چا سره یاری دسترګی توری
نه چي بیا مي وژنی په غمزو د بدري خوري
**

زه چي یم د یر غلی ستا د مینی په تال زانګم
ځمه په ځړتو کی ځان سره می په حال خاندم
رنځ ته مي دوا شه زغم مي پاتي نه دي نوري
نه چي بیا مي وژنی په غمزو د بدري خوري
**

ستا په تغافل کی له خپل ځان بیګانه کیږم
ستا نظر پر ما چي شی بی بنګ مستانه کیږم
وایه بیغوری دی وی جانانه تر څو پوری
نه چي بیا مي وژنی په غمزو د بدري خوري
***

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
کریفلد جرمنی ۲۰۱۵-۱۲-۲۴